**د پوهني وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزني معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ښه زده کوونکی

دریم ټولګی، لومړی سمستر، لومړی سویه



د آزمايښتي دورې مرستندوی توکي

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# ښه زده کوونکی

د دریم ټولګي د دریمې اونۍ لپاره

پښتو
افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د «افغان ماشومان یې لولي» پروژې
په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی

لیکوال: سرمؤلف امین الله نژند

اېډېټور: د مؤلف مرستیال نصیراحمد امرخېل

انځورګره : بهشته محسني

**د تصحیح کمېټه**

**----**

اسلامي: ګل آقا شایق

کلتوري: غلام سرور ګلابزی

ژبنۍ: فروزان خاموش

بسم الله الرحمن الرحیم



شکیلا په ټولګي کې درس ورکاوه.

هغې په ټولګي کې قَدم واهه.

بیا د ټولګي په مخ کې ودرېده.

ښوونکې وويل:
څوک د ښه زده کوونکي صفتونه ويلای شي؟
سارا او جميل لاسونه پورته کړل.
ښوونکې وويل:
سارا لورې! د تَختې مخې ته راشه!
ټولګيوالو ته يې ووايه.



سارا وویل:

ښه زده کوونکي مشرانو ته سَلام اچوي.

یو له بل سره په کارونو کې مرسته کوي.

د درس په وخت کې خبرې نه کوي.
لوست ته غوږ نیسي.
د لوست په مفهوم او مقصد ځان پوهَوي.
که پوه نه شي، پوښتنه کوي.



ښوونکې وویل:

بل څوک به د ښه زده کوونکي

صفتونه ووايي؟

ډېرو زده کوونکو ګوتې پورته

کړې.

بشير او تورپېکۍ هم لاسونه
پورته کړل.
تورپیکۍ وویل:
ښه زده کوونکي له ټولګيوالو
سره مرسته کوي.
له چا سره جنجال نه کوي.
ستونزې په ګډه او مشوره حلوي.



ښوونکي وویل:

بشيره! ته راشه زویه!

بشیر وویل:
ښه زده کوونکي په کور کې
لوستل او لیکل کوي.
د خپلو ښوونکو او مشرانو
درناوی کوي.

درسي كتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په
كلكه منع دي. له سرغړوونكو سره به قانوني چلند وشي.